لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ، شِبْرًا بِشِبْرٍ، وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ

له ابو سعيد الخدري رضى الله عنه څخه روايت دى وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ، شِبْرًا بِشِبْرٍ، وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ، حَتَّى لَوْ دَخَلُوا فِي جُحْرِ ضَبٍّ لَاتَّبَعْتُمُوهُمْ» قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ آلْيَهُودَ وَالنَّصَارَى؟ قَالَ: «فَمَنْ؟». "يقينا چې تاسو به لوبشت په لوبشت، ذراع په ذراع د هغه کسانو طريقې تعقيب کړئ چې له تاسو څخه مخکې وو، تر دې چې که دوی د سمسارې سوړې ته ننوځي نو تاسو به ورپسې شئ" مونږ وويل: اې د الله رسوله! آيا يهود او نصارا؟ هغه وويل: نو څوک؟!

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپلې زمانې څخه وروسته د هغو امتيانو د حال په اړه خبر ورکوي، چې په عقايدو، افعالو، عادتونو، او رواجونو کې به د يهودو او نصاراوو د لارې لوبشت په لوبشت او ذراع په ذراع کلکه پيروي کوي، تر دې چې که هغوی د سمسارې سوړې ته ننوځي نو دوی به ورپسې شاته ننوځي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3355

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee